# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


سه شنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د مې پنځمه | ۵۳۵مه ګڼه


## ځېره

۴ مخ

### نظام الدين اوليا (دهلوي)

د نظام الدين اوليا تر ټولو مهمه ځانګړنه دا وه چې د اسلامي فرهنګ او معارف په پراختيا او خپرولو کې يې مهم رول درلود. ده نه يوازې پخپله په دې برخه کې هڅه کوله، بلکې خپل خلفا، ملګري او مريدان يې هم دې ته هڅول چې د اسلامي فرهنګ په خپرولو کې هڅه وکړي.



### ښارجوړونې وزارت: په کندهار کې پر سلګونه جريبه ځمکه صنعتي ښارګوټی جوړېږي



د ښار جوړونې وزارت ويلي، ولسمشر محمد اشرف غني د هغه نږدې ۲۷۰۰ جريبه ځمکې وړانديز تاييد کړی چې په کندهار کې د صنعتي ښارګوټي لپاره بېله شوې ده.

د دغه وزارت چارواکو ويلي، دا ځمکه د کندهار ولايت د شوراندام په سيمه کې ده او مديريت يې د کابينې د پرېکړې له مخې، د د سوداګرۍ او صنعت وزارت ته ورکړل شوی دی. سرچينې همدا راز ويلي، تر دې مهاله تر ۱۱ زرو جريبه ډېره دولتي ځمکه د صنعتي پارکونو لپاره سوداګرۍ وزارت په واک کې ورکړل شوې ده. د ښار جوړونې وزارت ويلي، د دغه کار موخه يې په هېواد کې د پانګونې راجلبول او د کاري فرصتونو برابرول دي.

د يادونې ده چې تر دې وړاندې يوشمېر سوداګرو او پانګوالو د صنعتي ښارګوټو له کبله د ځمکې د نشتون په پار خوځله شکايتونه کړي، چې اوس يې تر ډېره ستونزه حل شوې ده.

### له نړيوالو د ولسمشر غني غوښتنه:

# طالبان د غير منطقي تاوتريخوالي له دوام را وګرځوئ





۳


کرونا؛ بحرانونه او د دولت ناکاره تګلارې ۲ مخ

انسجام و همکاری در مبارزه با کرونا، اطمینان قاطع در پیشبرد صلح ۲ مخ

د کرونا ډېرېدونکی ګواښ؛ افغانستان پر جعلي سني ټايزر... ۳ مخ


### د ګډ حکومت نوې طرحه؛

#### پر کلياتو توافق شوی، پر جزياتو چنې او بحثونه روان دي

د ثبات او همپالنې ټاکنيزه ډله وايي چې دوی له ارګ سره توافق ته نږدې شوي او په همدې تړاو يې خپله طرحه ولسمشرۍ ماڼۍ ته سپارلې ده.

دوی ويلي چې د طرحې پر اصولو او کلياتو هوکړه شوې او اوس پر جزياتو کار روان دی. د عبدالله عبدالله د ټاکنيزې ډلې ځينې غړي له دې توافق سره مخالف هم دي، خو بيا هم دغه ټاکنيزه ډله دې ته لېواله ده چې له ارګ سره توافق وکړي او په دې توګه بايد په واک کې پاتې شي. په ارګ کې هم ځينې کسان له دغه توافق سره مخالف دي، خو ولسمشرۍ ماڼۍ سره له دې هم پر سياسي حل ټينګار کوي او وايي، دوی هڅه کوي روان سياسي کشمکش پای ته ورسېږي.

وروسته له هغې چې د ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان شوې، د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنيزې ډلې د پايلو له منلو انکار وکړ او غوښتنه يې وکړه چې بايد د ټاکنو پايلې لغوه شي او ګډ حکومت دې جوړ شي.


هغه کسان چې د دې هوکړې مخالف دي، د صلاح الدين رباني او احمد ضيا مسعود نومونه پکې يادېږي. دوی ټينګار کوي چې د حکومت په جوړښت کې دې بدلون راشي، د ټاکنو پايلې دې لغوه شي او يو ګډ حکومت دې جوړ شي. د ولسمشر غني په ډله کې ويل کېږي چې لومړی مرستيال امرالله صالح د دغه سياسي توافق مخالف دی. نوموړي په رسمي توګه په دې اړه څه نه دي ويلي، خو تر دې وړاندې يې ټينګار کړی و چې د ملي يووالي د حکومت ناکامه تجربه به تکرار نه شي.

### د حکومت له لوري د بنديانو د خلاصون هرکلی کوو او دغه پروسه بايد چټکه شي



۲ مخ

### نامتو افغان خبريال مجاهد کاکړ د ورپېښې ناروغۍ له کبله د جرمني په يوه روغتون کې وفات شو



نامتو افغان خبريال مجاهد کاکړ چې له تېرو څو کلونو راهيسې د سرطان له وژونکې ناروغۍ سره لاس او ګرېوان و، تېره ورځ يې د جرمني په يوه روغتون کې سا ورکړه.

مجاهد کاکړ له يوې لسيزې زياته موده د طلوع نيوز خصوصي ټلويزيون د رييس او سياسي خپرونو د کوربه په توګه دندې ترسره کړې.

کاکړ د افغانستان د رسنيو په ډګر کې مشهوره او وتلې څېره وه چې ډېر خلک يې له غږ او څېرې سره اشنا وو او کلونه يې د ټلويزيون له پردې د خلکو د غږ رسولو او د بيان ازادي د تحقق لپاره مبارزه وکړه.

د نوموړي د کورنۍ غړي وايي چې کاکړ له تېرو څو کلونو راپه دې خوا له سرطان ناروغۍ سره لاس او ګرېوان و چې تېره ورځ يې د جرمني د اخن ښار په يوه روغتون کې د روغتيايي حالت تر خرابېدو وروسته ساه ورکړه.

په ورته وخت کې ولسمشر غني، پخواني اجرايه رييس ډاکټر عبدالله، د ټولنيزو رسنيو ګڼو کاروونکو، خبريالانو، د رسنيو د ملاتړ بنسټونو او نورو افغان سياسيونو د نوموړي پر مړينه اندېښنه ښودلې او د هغه مړينه يې د رسنيو لپاره لويه ضايعه بللې ده.

د يادونې ده چې نوموړي په ۱۳۹۳ لمريز کال کې د «يو عمر خبريالۍ لاسته راوړنې» جايزه هم د ازادو خبريالانو د مرکز له خوا ترلاسه کړه.




دريځ

## کرونا؛ بحرانونه او د دولت ناکاره تګلارې

په افغانستان کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو ثبت شوې شمېرې څه کم دريو زرو ته رسېدلي دي، خو ويل کېږي چې ډېر نور کسان هم پر دغه ويروس اخته دي، خو روغتونو ته مراجعه نه کوي. له دې سره حکومت تر کوچني اختر پورې د کرنتين د غځولو پرېکړه هم کړې ده. د کرنتين له اوږدېدو سره لوږه زياته شوې او اقتصادي حالت ورځ تر بلې خرابېږي.
اوس اساسي پوښتنه دا ده چې د کرونا او له دې امله د را پېښېدونکو ستونزو د مخنيوي لپاره حکومتي تګلارې څومره مناسبې او کارنده دي؟
تر اوسه پورې له بده مرغه هم کرونا په چټکۍ سره خپرېږي او هم د افغانستان اقتصادي حالت ورځ تر بلې خرابيږي. کاروبار او هر څه په ټپه ولاړ دي او لوږه زياتيږي. د دغه حالت دوام نه يوازې دا چې غريب خلک له ستونزو سره مخ کړي، بلکې نور دوام يې متوسط اقتصاد لرونکي خلک هم له ستونزو سره مخ کوي. له يوه اړخه په کابل او لويو ښارونو کې کرنتين د غربت د زياتېدو لامل شوی او له بله اړخه د کرنتين ډول هم داسې دی چې ډېر د کرونا له مخنيوي سره مرسته نه کوي. له بې وزلو خلکو سره د حکومت مرستې هم نه يوازې دا چې خورا کمې دي، بلکې د افغانستان د واقعيتونو او د غريبو خلکو د اړتيا پر اساس نه دي. حکومت د څلور نيمو کيلو غنمو د شرموونکي وېش له پروګرام وروسته اوس دا دی د پخې ډوډۍ د وېش پروګرام يې پيل کړی چې له بده مرغه ډېرې ستونزې لري. تر ګردو لومړۍ ستونزه دا ده چې غريب خلک يوازې وچې ډوډۍ ته اړتيا نه لري، بلکې نورې اړتياوې هم لري. له بله اړخه لا هم ډېر داسې کسان دا ډوډۍ اخلي چې مستحق نه دي، خو ډېر داسې کسان ترې محروم دي چې بايد دا ډوډۍ ورته رسېدلې وی. سر له اوسه په دې پروګرام کې د فساد، خپلوۍ پالنې او نورو ستونزو خبرونه ورکړل شوي دي. بله لويه ستونزه يې دا ده چې ډلې ډلې خلک دې ډوډۍ ته ولاړ وي چې د کرونا ناروغۍ د لېږد وېره يې زياته کړې ده.
اوس اساسي پوښتنه دا ده چې دا کرنتين به تر کومه دوام کوي او له زياتېدونکي غربت سره به څه کېږي؟ له بده مرغه دولت په پيل کې نه ښېل کېدونکې غفلت کړې دی، که نه دا هر څه په هرات کې د کنټرول وړ وو، خو اوس هم حکومتي تګلارې سمې نه دي. د اقتصادي څرخ داسې يو مخ درول به غربت لا زيات کړي او يو ستر ناورين به رامنځ ته کړي. له همدې امله اوس هم وخت دی چې دولت پر خپلو تګلارو له سره غور وکړي. لومړی خو بايد له غريبانو سره د مرستو ډول سم شي. دا مرستې بايد د غريبو خلکو د اړتيا پر اساس وي او بيا پکې پوره شفافيت وي. د دې تر څنګ دولت بايد د کرنتين په ډول کې بدلون راولي. داسې چې هم تر يوه بريده تدابير مراعات شي او هم کاروبار بېرته پيل شي. پوره او جدي کرنتين يوازې د هغو دولتونو کار دی چې د خلکو اړتياوې پوره کولی شي او له کوم جدي اقتصادي بحران سره مخ نه وي.

## انسجام و همکاری در مبارزه با کرونا، اطمینان قاطع در پیشبرد صلح



نویسنده: وانگ یو؛
سفیر کبیر جمهوری مردم چین مقیم افغانستان

به تاریخ ۲۷ ماه اپریل، وانگ ئی عضو شورای دولتی و وزیر امور خارجه جمهوری مردم چین با محمد حنیف اتمر نامزد وزیر و سرپرست وزارت امور خارجه افغانستان صمیمانه و دوستانه تلفونی گفتگو کردند. این اولین صحبت دو دوست قدیمی پس از تقرر آقای اتمر به حیث سرپرست وزارت امور خارجه می باشد و در شرایطی که تعداد مبتلایان به ویروس کرونا در افغانستان رو به افزایش می رود و ضمناً صلح و مصالحه این کشور با فرصت جدید روبرو می باشد شکل گرفته، حائز اهمیت خاصی است. دو جانب با تبادل نظر عمیق روی همکاری در مدیریت بحران کرونا، پروسه صلح و مصالحه و همکاری های دو کشور در عرصه های مختلف، روابط مشارکت استراتژیک دوجانبه را بیشتر به پیش برده اند.
طرف چین توجه خود را شدیداً به گسترش کرونا در افغانستان معطوف می کند و از این واقف است که کشور افغانستان با چالش کلان و کمبودی وسایل برای مدیریت بحران کرونا مقابل است و با مردم آسیب پذیر افغان در این آفت همدردی می کند. در برابر مریضی فراگیر بحران زا، وسایل درمان و جلوگیری سپهری محافظ حیات به شمار می آید. وسایل درمان و جلوگیری ۱۱.۷ تنی که محموله های کمکی طرف چین به افغانستان می باشد به خط مقدم مبارزه با کرونا از جمله ولایت های هرات و کابل ارسال شده و سهمی از خدمات در حفاظت از حیات و صحت مردم محلی انجام داده است. این امر نمونه زنده ای از همدمی و مساعدت دو ملت به یکدیگر است. همانطوری که عضو شورای دولتی چین گفت چین و افغانستان از دیرباز همدیگر را درک کرده، به هم کمک کرده و از هم حمایت می کرده اند. زمانی که افغانستان با مشکلات روبرو است، چین به حیث همسایه و شریک استراتیژیک افغانستان هرگز غایب نخواهد بود بلکه بدون هیچ تردیدی دست کمک به سوی این کشور دراز خواهد کرد. حال که طرف چین محموله های مورد نیاز فوری افغانستان جهت مدیریت بحران کرونا را ارسال کرده، حاضر است بنابه نیازمندی های طرف افغانستان تا حد امکان پشتیبانی بیشتر را در اختیار این کشور قرار دهد. آقای اتمر در صحبت با همتای چینایی خود، با سپاسگزاری از وسایل زیاد درمان و جلوگیری و اشتراک گذاری تجربیات در زمینه مبارزه با کرونا از طرف چین، از دست آوردهای مثبت چین در مدیریت بحران تقدیر و تحسین نمود.
مبارزه با کرونا مقابله جدی بشریت با مریضی فراگیر شدید در سطح جهان محسوب می شود. در برابر این مریضی ناگهانی و بی سابقه، مردم چین در کنار مردمان کشورها استند و با همدمی و همکاری در مبارزه با کرونا و غلبه بر معضله فصل جدیدی از شاهکار ایجاد جامعه بشریت با سرنوشت مشترک را آفرینش کرده اند. شی جین پینگ رئیس جمهور چین براساس عقیده قاطع مسئولیت پذیری در برابر ملت و جهان، مردم تمام کشور از اقوام مختلف را رهبری نموده و با همدلی و همفکری بی نهایت به مبارزه مردمی، مبارزه کلی و مبارزه بازدارنده با کرونا مبادرت کردند. پس از کوشش های سخت و دشوار و با متحمل شدن قربانی کلان، شیوع کرونا در داخل چین اساساً کنترول شده و مبارزه با کرونا به ثمرات مهمی نائل شده است. مبارزه ملت چین با کرونا از یک سو از کمک و پشتیبانی صادقانه جامعه بین المللی بهره مند شده و از سوی دیگر نقش ضروری در حفاظت از امنیت صحی عامه جهانی ایفاء کرده است.
اول، چین با ارائه طرح خاص خود، خدمات بزرگی به مدیریت بحران کرونا انجام داده است. پس از بیش از دو ماه کوشش های سخت و دشوار، چین یکی از کشورهایی شده که زودتر بحران کرونا را مهار کرده و برای یک ماه متوالی موارد ابتلاء جدید در داخل کشور صرفاً طور پراکنده و بسیار کم پدید می آید و گسترش در داخل اساساً قطع شده است. ضمناً اقتصاد و جامعه چین به نظم عادی برگشته و چین به عنوان « فابریکه جهانی » زودتر تولید و کار و کسب را از سر گرفته تا به حد زیادی کمبودی وسایل درمان در سطح جهان را جبران کرده و به بازگشت هرچه زودتر اقتصاد جهان به حالت عادی توسعه کمک کرده است. دوم، با ارائه فراخوان چین، جهت صحیح برای همکاری بین المللی در مبارزه با کرونا را مشخص کرده است. بعد از بروز بحران کرونا، رئیس جمهور سی جین پینگ شخصاً به میدان وارد شده و به طور فشرده با رؤسای کشورهای مختلف روی راه و روش مدیریت بحران مشوره کرده و نیت صادقانه چین در همکاری با تمام جامعه جهانی را ابراز کرده و رل هدایت کننده در ارتقاء اطمینان جوانب و پیشبرد انسجام جهانی بازی کرده است. سوم، با مسئولیت پذیری پشتیبانی قدرتمندی در اختیار کشورها قرار داده است. بعد از بروز بحران کرونا، چین همواره به همکاری بین المللی اهمیت داده و می پردازد. گرچه خود چین وظیفه سنگین مدیریت بحران بر دوش دارد در حد امکان خود فعالانه به کمک و همکاری با دیگر کشورها اقدام می کند. چهارم، با تشریح موقف چین، اتفاق نظر گرانبها را جهت کامیابی بشریت در مبارزه با کرونا ایجاد کرده است. پیروزی چین در مقابل کرونا مدیون رهبری مرکز حزب کمونیست چین با محوریت شی جین پینگ و اقدامات علمی، شفاف، قوی و جامع دولت چین، مدیون همدلی و انسجام و کوشش های بیش از یک میلیارد و چهار صد میلیون نفر هموطن چینایی و همچنین مدیون پشتیبانی و کمک کشورهای مختلف می باشد. هرچه بیشتر کشورها موقف چین را درک و تصدیق می کنند و مخالفت با لیبل گذاری کرونا، سیاسی سازی مدیریت بحران کرونا و بدنام سازی کشور معین به اتفاق نظر کشورها و صدای مشترک جامعه جهانی مبدل شده است.
قدرت، روحیه و کارآیی چین و سیمای کشور مسئولیت پذیری که ملت چین در مبارزه با کرونا رونمایی می کند مورد تحسین بسیار جامعه جهانی است. بیش از ۱۷۰ رئیس کشور و بیش از ۵۰ رئیس سازمان بین المللی و منطقوی و بیش از ۳۰۰ حزب و گروه سیاسی خارجی به مسئولان چین ابراز همدردی و پشتیبانی کردند. جامعه جهانی بر این عقیده است که چین در ضمن اقدامات قوی و جامع برای کنترول گسترش مریضی ناشی از کرونا در داخل کشور، فعالانه با سازمان جهانی صحت و جامعه جهانی همکاری و تبادل معلومات کرده و سریعاً توالی ژنوم (فرمول ژنتیکی) ویروس جدید کرونا را مشخص کرده و در اختیار همگان قرار داده و کیت تشخیص سریع را پژوهش و تولید کرده و برای جلوگیری از سرایت کرونا در سراسر جهان کوشش می کرده است. کارکردهای چین نه تنها حکایتگر مسئولیت پذیری چین نسبت به امنیت حیاتی و صحت و سلامت مردم چین بلکه خدمات برای صحت عامه جهانی محسوب می شود. جامعه جهانی اقدامات راسخ و قوی چین برای جلوگیری و مهار شیوع مریضی فراگیر را رونمای توانایی شایسته رهبری، برخورد، سازماندهی و بسیج و اجرای چین می شناسد که الگویی درزمنیه جلوگیری مریضی فراگیر را ایجاد کرده و دیگر کشورها قادر به آن نیستند.
طرف چین از مبارزه افغانستان با کرونا قاطعانه پشتیبانی می کند درحالی که پیشبرد صلح و انکشاف این کشور را از یاد نبرده است. در صحبت تلفونی وزرای امور خارجه دو کشور، آقای اتمر با ارائه معلومات درمورد آخرین پیشرفت پروسه صلح و مصالحه افغانستان، ابراز امیدواری کرد که طرف چین نقش سازنده ای ایفاء کند و همراه با دیگر کشورهای منطقه برای شکل گیری توافق بین حکومت افغانستان و گروه طالبان کوشش کند. وانگ ئی با اشاره به طرفداری چین از پیشنهادات مثبت حکومت افغانستان در مورد صلح و مصالحه ابراز امید کرد که جوانب اطمینان قاطع و صبر و حوصله را حفظ کنند و توافق سیاسی هرچه زودتر صورت گیرد. وزیر امور خارجه چین اضافه کرد که تشکیلات سیاسی آینده افغانستان باید فراگیر و همه شمول باشد و با عزم راسخ با تروریزم به هر شکلی مبارزه کند و سیاست خارجی برمبنای صلح و دوستی را پیروی کند. وانگ ئی تاکید کرد طرف چین به حیث همسایه و دوست افغانستان همواره مسیر انکشافی که خود مردم افغان انتخاب کرده را احترام می گذارد و مایل است در آینده به عنوان حمایتگر، میانجیگر و تسهیل کننده پروسه صلح و مصالحه افغانستان به ایفاء نقش سازنده مخصوص چین ادامه دهد.
دو طرف در پیشبرد ابتکار کمربند و راه اتفاق نظر دارند. وانگ ئی اظهار داشت که طرف چین مایل است همراه با افغانستان با تحقق ابتکار کمربند و راه همکاری های دوجانبه در عرصه های مختلف را گسترش دهد و منفعت برای دو کشور و ملت ایجاد کند. آقای اتمر با اشاره به اینکه ابتکار کمربند و راه در افغانستان با عکس العمل مثبت مواجه است و برای دو کشور و منطقه نعمت هایی به وجود آورده است، ابراز داشت که طرف افغانستان در ساختن کمربند و راه و ارتقاء سطح روابط مشارکت استراتژیک افغانستان و چین کوشش می کند. باعث خوشحالی است که در سال های اخیر، کشور افغانستان از ابتکار کمربند و راه بسیار سود گرفته است قسمی که جلغوزه افغانستان هر چه بیشتر به چین صادر شده و حجم تجارت دو جانبه طور متوالی افزایش یافته و کشاورزان و بازرگانان افغان به ازدیاد درآمد دست یافته اند و سود حاصله همراه با پیشرفت همکاری دو جانبه در تحقق ابتکار کمربند و راه پیوسته رشد خواهد شد.
امیدواری آقای اتمر از اینکه که طرف چین کمک به بهبودی روابط افغانستان و پاکستان را ادامه دهد با بازتاب مثبت طرف چین مواجه است. وانگ ئی اظهار داشت طرف چین بیش از همه مایل به مشاهده حسن همجواری افغانستان و پاکستان است. طرف چین حاضر است هر آنچه به نفع اعتقادسازی و بهبودی روابط افغانستان و پاکستان باشد، فعالانه عمل کند و در فرصت مناسب گفتگوی بین وزرای سه جانبه چین، افغانستان و پاکستان را تدویر کند و همکاری سه جانبه را به پیش ببرد. نظرداشت به اینکه همسایه گی افغانستان و پاکستان واقعیت غیرقابل تغییر است و هر دو کشور دوست خوب چین استند، وزیر امور خارجه چین از تحولات مثبت در روابط افغانستان و پاکستان خوشحال است و صادقانه امیدوار است این بهبودی محکم و عمیق شود و به صلح و انکشاف افغانستان کمک کند.
ویروس سرحد نمی شناسد و مریضی بین انسانها از هر قوم و نژاد فرق نمی گذارد. بشریت در یک جامعه با سرنوشت مشترک زندگی می کند از این رو بدون همبسته گی و همدمی جامعه جهانی نمی تواند بر مریضی فراگیر پیروز شود. در حال حاضر جامعه بین المللی اول از همه به اطمینان قاطع و همکاری و همدمی و انسجام احتیاج دارد تا اینکه با تقویت همکاری بین المللی و ایجاد نیروی مشترک دست به دست هم به موفقیت در مدیریت بحران کرونا نائل شود.

## طالبان: د حکومت له لوري د بنديانو د خلاصون هرکلی کوو او دغه پروسه بايد چټکه شي

طالبانو د افغان حکومت له لوري د دوی د زندانيانو د خلاصون هر کلی کړی او ويلي يې دي چې دغه پروسه بايد نوره هم چټکه شي.
په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين پر خپله ټوېټر پاڼه ليکلي، طالبان د حکومت له لوري د ۳۰۰ نورو زندانيانو د خلاصون هر کلی کوي، خو دا جريان کافي نه بولي او په خبره يې چې دغه پروسه بايد نوره هم ګړندۍ شي. شاهين ويلي، حکومت بايد د بنديانو د آزادېدو پروسه چټکه کړي، څو



دغه بنديان هم له کرونا ناروغۍ وژغورل شي او هم د بين الافغاني خبرو لپاره زمينه برابره شي. د نوموړي په خبره، دوی به هم له خپلو زندانونو د افغان حکومت د بنديانو خلاصون ته دوام ورکړي. دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت تر اوسه پورې ۷۴۸ طالب زندانيان له بند آزاد کړي دي.
د امريکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې پر اساس ټاکل شوې وه چې د تېرې مارچ تر لسمې افغان حکومت د طالبانو پنځه زره بنديان ازاد کړي وی او په دې سره به بين الافغاني مذاکرات هم پيل شوي وی، خو د بنديانو د ازادېدو بهير له ځنډېدو سره د سولې په پروسه کې هم ځنډ راغلی دی.
د طالبانو د قطر دفتر وياند سهيل شاهين ويلي، چې د افغانستان د جګړې ختمېدو او د سولې ټينګښت لپاره د دوی او امريکا ترمنځ لاسليک شوې هوکړه يو ښه چوکاټ دی.

لیکوال: انډریو کوېلټي
ژباړن: جواد تیموري
- سرچینه: دي انټرسېپټ



# د کرونا ډېرېدونکی ګواښ؛

## افغانستان پر جعلي سني ټايزر او کمو امکاناتو له دې وبا سره څه ډول مبارزه کوي؟!

اونۍ مخکې د افغانستان په لوېدیځ کې د ایران له پولې د هرات پر لور له کډوالو ډک بسونه را روان وو. له کرونا ځپلي او ناوړه اقتصادي حالت سره مخ ایران څخه یوازې تېره مارچ میاشت یو لک او څلوېښت زره افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي. د کډوالۍ چارو یو نړیوال کارپوه د افغان کډوالو دا جوپې د کرونا ویروس له کبله د مهاجرینو په تاریخ کې بې ساري بولي.

د ډېریو په بکسونو کې یوازې د اړتیا وړ سامانونه لکه، څادر، بوټونه، جاکټ او دې ته ورته د اړتیا نور وسایل وو، خو له دې ناخبر چې ښايي دا کالي او سامانونه به یې خپل هېواد او کورنیو ته د کرونا ویروس د لېږد وسیلې وي.

د بسونو دغه تمځای یوازې یوه خټېنه خونه درلوده او بس! د قرنطین او ګرځبندیز له خبرداریو سره سره، بیا هم په ښار کې هوټلونه پرانیستي وو، د هوټلونو خاوندانو له مسافرو سره په ګډه افغاني شورواګانې او له ګازرو او ممیزو ډکې وریجې خوړلې. راغلي کډوال د خپلو سیمو موټرو ته په تمه وو چې خپلو کورونو ته ځانونه ورسوي، د لویې لارې پر سر یو سپین امبولانس تلو راتلو او د دغو کډوالو له ډلې به یې شکمن کسان په لوېدیځ کې د کرونا ویروس ځانګړې روغتون ته لېږدول.

په افغانستان کې تېر کال جګړې د بل هر څه په پرتله د ډېرو انسانانو ژوند واخیست، دوامداره جنګونو، پراخې لوږې، بېوزلۍ او کمزوري روغتیايي سیستم د کرونا ویروس لپاره له وړاندې په دغه هېواد کې د ناورین زمینه برابره کړې ده. روغتیایي کارپوهان وايي، چې په دغه هېواد کې به د روان ویروس پراختیا ستر بشري ناورین رامنځته کړي.

له ایرانه تازه راستانه شوي نارینه کډوال د هرات په اسلام قلعه کې خپل اصلي ولایت (فاریاب) ته له تلو وړاندې په دې سیمه کې دمه کوي، چې د اوږدو لارو د مسافرۍ خولې یې وچې شي. دلته نرسان په دوی کې د تودې تبې لرونکي کسان لټوي څو یې د درملنې او قرنطین په موخه روغتونونو ته واستوي.

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د روان کال په فبروري میاشت کې په کابل کې افغان – جاپان روغتون له کرونا ویروس سره د مبارزې او درملنې اصلي مرکز ونوماوه.

خو یوه نوې او عجیبه ستونزه رامنځته شوې! د دغه روغتون دوه تنه کارکوونکي وايي، چې د یاد وزارت له لوري جوړ شوي د مېکروب ضد مواد (سني ټايزر) ټول جعلي دي او ان د الکول کچه پکې صفر ده. دغه کسان وايي چې په ټولو روغتونو کې له یادو موادو ګټه اخیستل کېږي، خو اوس تازه ثابته شوه چې دغه مواد اصلاً د مېکروب ضد ترکیبات نه لري. دغه مواد ان په سپینې تختې توپې شوی رنګ هم نه شي پاکولی، د انسان پر لاس کوچیني او خطرناک مېکروبونه او ویروس خو لا لرې خبره ده!

په افغانستان کې د سني ټايزر له جوړېدو وروسته د روغتیا د نړیوال سازمان له خوا د تولید شوو سني ټايزرو د ګټې اخیستې لړۍ ودرول شوه او پرځای یې په کور دننه د تولید شویو موادو ګټه اخیستنه پیل شوه، هغه څه چې د روغتیا د نړیوال سازمان د ویاند له هرکلي سره هم مخ شول.

له بلې خوا د کرونا ویروس د کیټونو او الو کموالی هم د اندېښنې وړ دی، د روغتیا نړیوال سازمان افغانستان ته د کرونا ویروس د ازموینې ۱۵۰۰ الې اړ کیټونه ورکړي، خو په ټول هېواد کې د دغه ویروس د نمونو د ازموینې لپاره یوازې دوه مرکزونه په دغو ماشینونو مجهز دي چې د کرونا ویروس پایلې تشخیصولی شي. په ورته وخت کې د عامې روغتیا وزارت ستر سلاکار ډاکټر وحید مجروح وايي، چین او متحده عربي امارات افغانستان ته په لسګونو زره د کرونا ویروس د ازموینې کیټونه ورکوي. نوموړی دغه راز وايي، په پام کې لري چې په ټول هېواد کې د کروناویروس د تشخصي مرکزونو شمېر له دوو څخه دوولسو ته ورسوي.

په ورته وخت کې د اپرېل له دویمې بیا تر دې دمه د کرونا ویروس د تشخیص دغه دوه مرکزونه د مصنوعي اوکسجن یوازې دوولس ماشینونه لري. ډاکټر نصیر فرهنګ چې تازه له پوهنتون فارغ شوی او په روغتون کې کار کوي، وايي، چې د دغو ماشینونو له ډلې یې څلور د هرات په روغتون کې دي، خو تر تېرې اونۍ پورې یې له یوه څخه هم ګټه نه ده اخیستل شوې او ان لا تر اوسه نصب شوي هم نه دي.

فرهنګ وايي: «په ټول روغتون کې هېڅ داسې ډاکټر نه لرو چې د مصنوعي اوکسیجن په دغو ماشینونو پوه شي، دوی نه پوهېږي چې ناروغانو ته دغه ماشین څه وخت او څنګه بسته کړي».

کرونا ویروس داسې مهال افغانستان ته مخه کړه، چې دغه هېواد په تر ټولو ناوړه شرایطو کې دی. د ۲۰۱۹ ز کال د ټاکنو دوه مخکښ نوماندان هر یو یې د ټاکنو د ګټلو ادعا کوي او له همدې کبله یې د لوړې دوه جلا مراسم هم ترسره کړل. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د مارچ په ۲۰ مه کابل ته د سفر پرمهال پر دې ونه توانېد چې ولسمشرغني او ډاکټر عبدالله عبدالله په خپلو کې سره جوړ کړي. له دې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له افغانستان سره د یو میلیارد ډالرو مرستې د کمولو اعلان وکړ. په ورته وخت کې په کور دننه روان سیاسي کړکېچ د افغانستان د نولس کلنې جګړې د پای ته رسېدو لپاره د امریکا او طالبانو ترمنځ په قطر کې لاسلیک کړې تړون هم له ګواښ سره مخ کړی دی.

هرات! هغه ښار چې نږدې نیم میلیون نفوس لري، تر ډېره له ایران سره سوداګریزه او فرهنګي راکړه ورکړه لري. دغه راز له دې بندر څخه هر کال په سلګونو زره کسان ایران ته د کار په موخه اوړي. له ایران سره د هرات دغو اړیکو یاد ښار د کرونا ویروس له کبله په تر ټولو خطرناک ځای بدل کړی دی، د ټول افغانستان په پرتله په دغه ښار کې د کرونا ویروس د مثبت پېښو شمېر ډېر دی. د عامې روغتیا وزارت یو لوړپوړی سلاکار وايي چې په افغانستان کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو له ۹۰ – ۹۵ سلنو پورې یې هغه کسان دي چې له ایرانه راغلي دي. هغه دغه راز وايي چې ښايي په ټول هېواد کې د کرونا ویروس اصلي پېښې د ثبت شویو هغو په پرتله څو برابره ډېرې وي.

بل خوا د کډوالۍ نړیوال سازمان وايي، چې دا مهال تر ۲.۴ میلیونو پورې افغان کډوال په ایران کې مېشت دي چې تر ډېره یې د کار په موخه دغه هېواد ته تللي دي. دغه سازمان وايي، چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې د بېکارۍ د کچې په ډېرېدو سره ایران ته د کډوالو په لړۍ کې د پام وړ ډېروالی راغلی دی. خو په ایران کې د کرونا ویروس او د دغه هېواد د ناوړه اقتصادي وضعیت له کبله ډېری افغانانو بېرته خپل هېواد ته د راتلو لار خپله کړې ده. د کډوالۍ د نړیوال سازمان د شمېرو له مخې، د روان کال له جنوري تر مارچ میاشتې هره ورځ په اوسط ډول زر تنه افغانان د نیمروز او هرات له لارې هېواد ته راځي.

۳۱ کلن ذبیح الله چې څو میاشتې یې په ایران کې کار کړی، تېره اونۍ په پښو له ایران څخه خپل هېواد ته راغلی دی. هغه په لاره کې د راتګ پرمهال د سختو پېښو د بیان لپاره ډېر څه لري، نوموړی وايي چې اوس بېرته خپل ولایت (فاریاب) ته روان دی او د خپلې مزدورۍ او کار لپاره هېڅ لاره نه لري: «مجبور یم په کور کې کرار وغځېږم».

په مارچ میاشت کې چې زرګونه کسان په ایران کې پر کرونا ویروس اخته شول، ورسره سم په دغه هېواد کې ډېرې کارونه په ټپه ودرېدل او په ځینو ځایونو کې ان ګرځبندیز هم ولګېد، په دې سره له یولک ډېرو افغانانو بېرته خپل هېواد ته د راتلو په پار خپلې کډې وتړلې، دوی پوهېدل چې که هلته پر دې ناروغۍ اخته شي، ایراني حکومت به یې هېڅکله هم درملنه ونه کړي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان د راپور له مخې، په مارچ میاشت کې په اوسط ډول افغانستان ته د کډوالو د بېرته راتګ شمېر هره ورځ تر ۱۵ سوو لوړ شو. په افغانستان کې د کرونا ویروس په برخه کې د کډوالۍ نړیوال سازمان استازی او سرپرست نېک بیشوپ وايي چې د کرونا ویروس له کبله د کډوالۍ په تاریخ کې دا شمېرې بې ساري دي.

پر دې سربېره، په لسګونو زره هغه کورنۍ چې نسبتاً ښه اقتصادي شرایط یې درلودل، د کرونا ویروس له کبله تر سختو فشارونو لاندې دي، اوس وېره دا ده چې د کډوالو راتګ او د افغاستان ناوړه روغتیایي وضعیت ښايي دغه هېواد له جګړې بدتر حالت ته بوځي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري یا (UN-OCHAA) مشرې لیندا ټام ویلي: «په افغانستان کې له کرونا ویروس وړاندې هم ډېری کسانو بشري مرستو ته جدي اړتیا درلوده. روان کال ۹.۴ میلیونه افغانان چې د دغه هېواد د نفوس څلورمه برخه جوړوي. بشري مرستو ته اړتیا لري».

له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان پرانیستو پولو هم د دغه ویروس د پراختیا د مخنیوي فرصت ناممکن کړی. بل پلو وېره، ناسم معلومات، په افغانستان کې د کورنیو جوړښت(لویې کورنۍ) او له غونډو او ناستو نه مخنیوی، په یاد کې هېواد کې د ناورین د لا ډېروالي لامل کېدای شي. دغه راز په کور دننه نږدې څلور میلیونه بې ځایه شوي بیا د دغه ویروس د ښکار لپاره تر ټولو مناسب دي؛ ځکه دوی د ناوړه اقتصادي وضعیت له کبله د سپارښتنو په پلې کېدو کې پاتې راغلي دي.

د هرات په شهرک سبز کې نږدې لس زره کورنۍ ژوند کوي، دوی چې هره یوه کورنۍ یې نږدې یوه یوه خونه لري، په ۲۰۱۸ زکال کې د هېواد په شمال او بادغیس کې د جګړو او وچکالۍ له کبله دغه ښارګوټي ته د کډوالۍ لپاره اړ شول.

که څه هم تېره اونۍ پرله پسې څو ورځو بارانونو دوی په کورونو کې پاتې کېدو ته اړ کړي وو، خو د هوا په بدلېدو سره دوی یوځل بیا د یوې مړې ډوډۍ پیدا کولو لپاره ان پر خپل سر لوبې کولو ته هم تیار دي.

د دې سیمې اوسېدونکي وايي، تر دې وړاندې به خیریه ټولنو او بنسټونو له دوی سره مرسته کوله، خو کرونا ویروس اوس د دوی پام ځان ته ور اړولی او موږ ترې هېر شوي یو.

غلام سخي چې په دغه ښارګوټي کې یو کوچنی دوکان لري، وايي، چې ځینې غیر دولتي بنسټونه زموږ کمپونو ته راغلل، د کرونا ویروس د ګواښونو په تړاو یې موږ ته لارښوونې وکړې. هغه وايي: «دوی راغلل، راته ویې ویل چې تاسې باید د ځانونو د خوندیتوب لپاره هغه مېوې وخورئ چې ویټامین سي لري، خو موږ ان ډوډۍ نه لرو».

د غونډۍ پر سر چې لاندې یې زرګونه خټین کورونه لیدل کېږي، د ماشومانو ۱۵۰ بستریز روغتون په دې سیمه کې د کرونا ویروس د درملنې د اصلي مرکز په نوم شوی. فرهنګ چې په دغه روغتون کې یې تازه دنده پیل کړې، وايي، چې تېره اونۍ چې په ټول هېواد کې د کرونا ویروس د ټولو پېښو شمېر ۷۱ و، ۵٦ تنه یې په دغه روغتون کې بستر وو. تېره شپه یوه ۴۵ کلنه ښځه چې په دې ناروغۍ اخته وه، مړه شوه.

په هرات کې له کرونا ویروس سره د مبارزې په پار له مصنوعي اوکسیجن د ګټې اخیستنې لپاره د روزل شویو کسانو نه شتون اوسنۍ ستونزه نه ده، په ۲۰۱۸ ز کال کې یو نړیوال روغتیایي متخصص د نوم نه ښودو په شرط له یوې بلې پېښې پرده پورته کوي. هغه وايي چې تر دې وړاندې هم په دغه روغتون کې دوې ورته دستګاوې وې چې د روغتیا د نړیوال سازمان لوی سټیکرونه هم پرې لګېدلي وو، خو د ظرفیت د نه شتون له کبله د دغه روغتون ډاکترانو هغه په پوښونو کې تاو کړې، ترڅو ناپاکې(؟) نه شي!!

د روغتیا د برخې دغه بهرنی کارکوونکی وايي: «په دې دومره موده کې هېچا ته له دغه ماشینونو د ګټې اخیستنې زده کړه نه ده ورکړل شوې». هغه وايي، یوازې د مصنوعي تنفس دا دستګاوې نه دي، بلکې په لسګونه نور برېښنایي وسایل او ماشینونه هم شته چې دوړې پرې پرتې دي. پر ځینو یې څوک نه پوهېږي او د ځینو نورو یې پرزې خرابې دي چې په افغانستان کې نه پیدا کېږي.

نوموړی وايي چې زما لپاره تر ټولو دردوونکې شېبې دا وې چې ځینو ناروغانو یوازې له دې کبله ساه ورکوله چې په څنګ کې یې پر اېښو ماشینونو څوک نه پوهېدل.

د روغتیا نړیوال سازمان ان په جون میاشت کې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ته د دغه ویروس له کبله د احتمالي تدابیرو په تړاو خبر ورکړی و. د هرات د عامې روغتیا ریاست مرستیال ډاکتر محمد اصف کبیر وايي، کله چې د ایران په قُم کې د کرونا ویروس له مثبتو پېښو خبر شوو، موږ هم په هرات ولایت کې خپل تدابیر پیل کړل چې هغه مهال تر ډېره پر عامه پوهاوي راڅرخېدل.

نېک بیشوپ وايي، په هغو ټولنو کې چې تر ډېره زیانمې وي، د عامه پوهاوي پروګرامونه ډېر اړین دي. هغه وايي: « زده کړې، ټولنیزو او اقتصادي شرایطو ته په کتو، دا ډېره ستونزمنه ده چې خلک پر دې وپوهوې چې په کور کېني، په ځانګړې توګه هغه مهال چې پېښې مخ پر ډېرېدو وي، د مړو شمېر زیاتېږي او له بلې خوا د خلکو د اقتصادي شرایطو کړۍ هم راتنګېږي».

که څه هم افغان دولت د دغه ویروس د مخنیوي لپاره په خپلو اقداماتو کې جدي و او له همدې کبله یې په هرات کې په غونډو بندیز ولګاوه، دوکانونه یې وتړل چې ان لړۍ یې تر کابل پورې هم راورسېده، خو د دغه کار نوري ممکنه اغېزې هم له پامه نه شي غورځېدای. په لومړنیو اقداماتو کې د ښوونځیو او پوهنتونونو د تړل کېدو رخصتېدو اعلان وکړ. سمه دغه کار به هم تر یوه وخته وشي، خو په یوه داسې هېواد کې چې ډېره برخه خلک یې له ورځنې کار څخه ځان او کورنۍ ته ډوډۍ پیدا کوي، دا ډېره ستونزمنه ده چې پر دوی دې وضع شوې محدودیتونه تر ډېره دوام وکړي.

په راتلونکو اونیو او میاشتو کې ښايي د چین، ایټالیا، اسپانیا او امریکا په څېر ښايي په افغانستان کې هم د کرونا د پېښو پر ډېرېدو به ټول روغتونونه د کرونا د درملنې پر روغتونونو بدل شي. خو کورني او بهرني متخصصین بیا په دې برخه کې د پرسونل او وسایلو کمښت د اندېښنې وړ بولي. په ورته وخت کې د افغان- جاپان روغتون (چې د کرونا ویروس د درملنې د مرکز دی) مسوول ډاکتر عتیق الله وايي، چې د پرسونل د کموالي له کبله یې ان ځینې کارکوونکي باید ۲۴ ساعته کار وکړي.

په افغانستان کې د بې پولې ډاکترانو ادارې مشر جولیان رایکمن وايي: «د افغانستان روغتیایي سیستم قطعاً یو کمزوری او ناکاره سیستم دی، دا لا تر اوسه عادي حالت دی چې خلک یې دومره وارخطا کړي، خو کله چې ویروس نور هم پراخېږي، ښايي وضعیت به ډېر ګواښوونکی وي».

بلخوا د روغتیا د برخې ځینې متخصصان بیا د روغتیا پر نړیوال سازمان سختې نیوکې کوي چې ګواکې دا سازمان تل داسې فکر کوي چې پیسې به د هر څه ځواب ووایي. په کابل کې د روغتیا د برخې یو بهرنی متخصص د نوم نه ښودو په شرط وايي، چې د کرونا ویروس د مخنیوي په پار د روغتیا د نړیوال سازمان اوسنې کارونه بې مانا دي، هغه وايي، یاد سازمان له ځینو هېوادونو سره د طبي پرسونل د ډېرېدو او د روغتیایي سامانونو پرځای یواې د نغدي مرستو اعلان کوي. د هغه په خبره: «هغه مهال چې ټولې لارې او الوتنې بندې شي، بیا نو کولای شو چې په پیسو د خلکو درملنه وکړو؟ او ایا پیسې د طبي تجهیراتو او پرسونل ځای نیولی شي؟!».

خو په افغانستان کې د روغتیا د نړیوال سازمان مسوولین بیا وايي چې دوی د افغانستان له عامې روغتیا وزارت سره په دې برخه کې له نږدې کار کوي. د دوی په خبره چې د اړتیا په صورت کې به له افغانستان څخه خپلې هېڅ ډول هڅې ونه شپموي.

په ورته وخت کې د روغتیا د برخې ځینې پوهان بیا په افغانستان کې د کرونا اصلي پېښې د ثبت شویو هغو څو برابره بولي. دوی وايي چې ډېری کسان همدا اوس په دې ناروغۍ اخته دي، خو روغتون ته د تګ لپاره یا زړه نه ښه کوي او یا هم پر دې نه پوهېږي چې په دې ناروغۍ دې اخته وي.

دا په داسې حال کې ده چې د عامې روغتیا وزیر فېروزالدین فېروز د مارچ په ۲۵ مه اعلان وکړ چې ښايي د افغانستان ۸۰ سلنه وګړي چې نږدې ۲۵ میلیونو ته رسېږي، به پر کرونا ویروس اخته شي او په زرګونو کسان به له دې کبله مړه شي.

## د کتـــاب خبـــرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه

**د راتلونکي واگې په لاس کې واخله!**

**۳. ته چېرته ژوند کوې؟**





کلونه دې د پرمختگ پر زینو د ختلو لپاره کار وکړ. ښایي اوس هم په وروستۍ زینه کې یې. دا هم کېدای شي چې د پرمختگ لوړو زینو ته لا نه یې رسېدلی. دا چې د زینې په کومه پوړۍ کې یې، دومره اړینه نه ده. اړینه دا ده چې د پرمختگ پر زینو تر پورته کېدو مخکې دې دا معلومه کړې وای چې دا زینې پر کوم ځای پای ته رسېږي او پر څومره زینو باید پورته شم؟
لکه سټیفن کووي چې وايي:((دا ضروري نه ده چې ته پر یوه زینه څومره چټک او لوړ ختلی یې، اړینه دا ده چې زینه غلط دېوال ته نه وي درېدلې.)) په دې کار دې سترړیاوې او خوارۍ بې رنگه کېږي.
د دې څپرکي موخه همدا ده چې تاسو د یو څو شېبو لپاره پر زینې له ختلو راوگرځوو او دا معلومه کړئ چې زینه خو به غلط ځای نه وي اېښې. که غلط ځای وه، نو سم ځای به ورته پیدا کړئ.
پیسې څنگه گټې؟
ډېر خلک فکر کوي چې د دوی مالي مقام ( Financial Standing) له هغو پیسو معلومېږي چې دوی یې گټي یا د هغې شتمنۍ له مخې معلومېږي چې دوی یې همدا اوس په لاس کې لري، یا د دواړو له یو ځای کولو معلومېږي. فوربز مجله «شتمن» داسې راپېژني: هغه کس چې په کال کې یو میلیون ډالره گټي، شتمن بلل کېږي. یانې د میاشتې ۸۳۳۳۳ ډالره یا په اونۍ کې ۲۰۰۰۰ ډالره ترلاسه کوي. او «نېستمن» هغه کس دی چې په کال کې تر ۲۵۰۰۰ ډالرو لږه گټه کوي. ((په افغانستان کې دا مساله بېل حساب لري. دا یوازې د پرمختللو هېوادونو لپاره ده. زموږ او د دوی د شتمنۍ معیار او د پیسو اندازه توپیر لري: ژباړن))
اصلي خبره داده چې د پیسو گټلو تر اندازې، د پیسو گټلو کیفیت ضرور دی. یانې څومره چې گټې، تر دې دا ضرور ده چې څنگه او چېرته یې گټې. په حقیقت کې د پیسو گټلو څلور لارې دي. هره لاره له بلې سره ډېر توپیر لري او که دې ته پام ونه کړو چې څومره پیسې گټو، نو هره لاره د ژوند یو بېل ډول دی.




د «شتمن پلار، نېستمن پلار» په نوم کتاب تر لیکلو وروسته مې یو کتاب ولیکه چې په نړۍ کې د پیسو پیدا کولو څلور لارې (کونجونه) پکې ښودل شوي وو. کومو خلکو چې دغه کتاب لوستی و، زیاتو یې راته وویل چې «د پیسو څلور کونجونه» په نوم ستا دغه کتاب ډېر اړین دی. ځکه په دې کې هغو خلکو ته اشاره شوې چې په رښتیا په خپل ژوند کې بدلون غواړي.
«د پیسو څلور کونجونه» د گټې کولو څلور بېلې لارې تشریح کوي. پورته شکل ته وگورئ، هر کونج د پیسو د گټلو یوه لار ده. مثلاً:
د E کونج د Employee لپاره، یانې کارگر یا په تنخوا کار کول: یو څوک د پیسو گټلو لپاره یوه دنده لري. د بل کس یا کمپنۍ لپاره کار کوي. لکه، دولتي مامور، ښوونکی، د شرکتونو کارگران او . . .
د S کونج د Self-employed لپاره، یانې د کوچني کاروبار لرونکی یا ازاد کارکونکی: دا خلک د ځان لپاره کار کوي او د خپل کوچني کاروبار خښتن وي. لکه، مدافع وکیل، لیکوال، کوچنی شرکت یا دوکاندار او... .
د B کونج د Business Owner لپاره، یانې د تجارت څښتن: یو څوک د کاروبار لپاره لوی شرکتونه او کاروبارونه لري چې سلگونه کارگر ورسره کار کوي.
د I کونج د Investor لپاره، یانې پانگوال: پانگوال یا سرمایه دار په پیسو پیسې گټي.
ته په کوم کونج کې یې؟ یا په بله اصطلاح، په دې څلورو لارو کې له کومې یوې پیسې ترلاسه کوې؟
**دوام لري...**

# نظام الدین اولیا (دهلوي)

شفیق امیرزی



سید محمد بن احمد بن علي دهلوي یا سید محمد نظام الدین اولیا په ٦۳۳هـ ق کال کې په هند کې زېږېدلی دی. دی په شاه نظام الدین اولیا، شیخ نظام الدین اولیا، شاه نظام اولیا، نظام دهلوي، نظام الدین دهلوي او نورو نومونو مشهور دی. نوموړی په هند کې په اتمه پېړۍ کې لوی عارف او صوفي تېر شوی دی. د چشتیه طریقې مهم لاروی او په هند کې د بشردوستۍ سمبول او د درناوي وړ شخصیت دی. دهلوي په چشتیه طریقه کې د خواجه معین الدین چشتي څلورم خلیفه یا ځای ناستی و.
پلار یې د بخارا و. په هند کې د اسیایي پادشاهانو له واکمنیو سره سم یې هند ته مهاجرت کړی و او په لاهور کې اوسېده. له لاهور داتراپردېش ایالت بدیوان نومې سیمې ته کډه کوي. دا ځای د ډیلي په ختیځ کې پروت دی. نظام الدین هم په همدې سیمه کې زېږېدلی دی. دی پنځه کلن و چې پلار یې ومړ. او مور یې بي بي زلیخا د ده پالنه او روزنه په یوازې ځان کوله. هغه یوه پرهېزکاره، با دیانته او زاهده ښځه وه. د زوی په روزنه او تربیه کې یې خورا ډېره هڅه وکړه. نظام الدین په بدیوان کې زده کړې پیل کړې او د مور تر څارنې او روزنې لاندې و. د هغه وخت مروج علوم یې همدلته له ابتدایي زده کړو پیل کړل. لږ موده چې تېره شوه، د علم د زده کړې په موخه یې له مور سره یو ځای ډیلي ته لاړ. د نظام الدین د ژوند په اړه ډېر معلومات په آیین اکبري کې راغلي دي. دا کتاب د مغلو د دربار وتلي لیکوال او مورخ ابوالفضل علامي لیکلی دی. دی د اکبر پادشا وزیر هم و او په ۱٦مه پېړۍ کې یې دغه کتاب لیکلی دی.
خواجه نظام الدین له تصوف او دیني علومو سره مینه لرله. یوه شپه د ډیلي په جامع جومات کې و چې د موذن له خولې د یوه آیت له اورېدو وروسته یې په زړه کې لیونۍ مینه پیدا شوه. له همدې ځایه په تصوف او صوفیانو پسې روان شو. له هغه ځایه لاړ د شیخ فریدالدین شکرگنج دربار ته ورغئ. له دې وروسته هم له شیخ فرید سره و او هم یې د چشتیه طریقې له نورو صوفیانو لکه قطب الدین بختیار کاکي، معین الدین چشتي او نورو زده کړې پیل کړې او د چشتیه طریقې او تصوف په رموزو یې ځان پوه کړ. اوږده موده یې زده کړو ته ادامه ورکړه. دی همدلته تر زده کړو وروسته د نورو تصوفي مشرانو له لوري د ارشاد مرحلې ته ورسېد. بیا دی هم د چشتیانو له لوري وگومارل شو او په دې لار کې تر ریاضت وروسته یې ډېر پیروان او مریدان پیدا کړل. سلگونو کسانو یې لار تعقیب کړه او د ده افکارو ته یې درناوی درلود.
نظام الدین اولیا یتم و، اقتصادي وضعیت یې ښه نه و، په لومړي سر کې له بېوزلۍ سره مخ و. ده هېڅ وخت له هېچا هېڅ نه اخیستل. تر لږ مودې وروسته په هند کې مشهور صوفي شو او زرگونه مینه وال یې پیدا کړل. د هند په تېره د ډیلي له گوټ گوټ د مسلمانانو مشران او آمران پرې را مات شول. د اسلامي نړۍ پادشاهانو له ده د لیدنې غوښتنه کوله. له دې ډلې سلطان جلال الدین غلجي له ده وغوښتل چې ورسره ووینې او د ده د ملگرو او دربار ډېر قدر یې کاوه.
نظام الدین اولیا د چشتیه طریقې پیرو و او په دې طریقه کې عشق او محبت خدای ته د رسېدو لار گڼل کېده. خواجه نظام الدین هم د خپلو استادانو په څېر په دې باوري و چې د مینې او محبت له لارې خدای ته رسېدلی شي. هغه له بشریت او انسانیت سره مینه له خدای سره د مینې لپاره غوره لار گڼله. دی ځکه په هند کې ډېر شهرت او ملاتړي لري چې فکر یې پر انسان دوستۍ ولاړ و. ټولو مذاهبو ته یې درناوی درلود، له همدې امله د ټولو مذهبونو خلک ده ته راتلل. هغه د نړۍ او انساني ټولنو په اړه ځانگړې لیدلوری درلود. د هند په کثرتي ټولنه کې یې د مذهبونو کثرت ته هم درناوی درلود. د هند تاریخ لیکوال وایي چې د نظام الدین انساني چلند په نوي ډیلي کې یو ځانگړی زغم او مینه رامنځ ته کړ. د نوموړي دغه کړنې د دې سبب شوې چې د ډیلي د خلکو لیدلوری ورسره بدل شو. همدا راز په مسلمانانو کې یې هم دا لیدلوری رامنځ ته کړ چې د ډېرو دنیوي مسایلو پر ځای دې د عرفان لور ته مخه کړي. خلک یې وهڅول چې عبادت وکړي او د مادیاتو پر ځای تر ډېره معنویاتو ته پام وکړي او په دې توگه خپل شخصیت او کورنیو ته رښتیني او بنسټیزه وده ورکړي.
د نظام الدین اولیا تر ټولو مهمه ځانگړنه دا وه چې د اسلامي فرهنگ او معارف په پراختیا او خپرولو کې یې مهم رول درلود. ده نه یوازې پخپله په دې برخه کې هڅه کوله، بلکې خپل خلفا، ملگري او مریدان یې هم دې ته هڅول چې د اسلامي فرهنگ په خپرولو کې هڅه وکړي. د هند په بېلو برخو کې یې تصوف او اسلامي معارف خپور کړ. خپل خلفا به یې لېږل، شاگردان به یې روزل او هغه به یې خپلو سیمو ته د اسلامي فرهنگ د خپرولو په موخه لېږل. د دې تر څنگ د تاریخ لیکوالانو او د ده پیروانو د نظام الدین اولیا ډېر کرامتونه هم ذکر کړي دي او د ده ستاینه یې کړې ده. خواجه نظام الدین اولیا سره له دې چې یو متصوف شخصیت و، لیکوال او د دیني متونو تنظیموونکی هم و. فواید الفواد، راحت المحبین، افضل الفواد او سیرالاولیا یې مهم کتابونه دي. د خواجه نظام الدین فواید الفواد کتاب امیر حسن سجزي چې د هند په سعدي هم مشهور دی، راټول کړی دی. په دغه کتاب کې یې د چشتیه طریقې د مهمو علماوو او مخکښانو ژوند لیکونه راټول کړي دي. دا د چشتیې طریقې د تاریخ او پېژندگلوۍ په اړه مهم کتاب گڼل کېږي.
د نظام الدین په مریدانو او شاگردانو کې د هغه وخت مشهور شاعران او لیکوالان راټول شوي وو. امیر حسن دهلوي او د فارسي ژبې مشهور شاعر امیر خسرو دهلوي هم د نظام الدین له مریدانو وو، چې د ده په ستاینه کې یې شعرونه هم ویلي دي. د ده شاگردانو او خلفاوو هر یوه په یوه سیمه کې فعالیت پیل کړی و او شاگردان یې روزل. یو شاگرد یې خواجه نصرالدین په گجرات او پنجاب کې خورا مشهور و او ډېر مذهبي تاثرات یې له ځانه په میراث پرې اېښي وو. بل شاگرد یې سراج الدین په بنگاله، بیهار او اسام کې د اسلامي متونو او ارشاداتو به تدریس بوخت و او سلگونه شاگردان یې روزل. بل شاگرد یې برهان الدین په دکن او د هندوستان په مرکزي سیمو کې خلکو ته د تصوف او اسلامي فرهنگ تدریس کاوه.
نظام الدین اولیا واده نه و کړی، خو د جمال الدین په نامه یې یو ورور درلود. ده د هغه زوی ته د خپل زوی په سترگه کتل او د ورور تر مړینې وروسته یې د ده سخته پالنه کوله. دی یې په زده کړو کې بوخت ساته او تربیې ته یې ځانگړې پاملرنه کوله. لرې لرې سیمو او مشهورو دیني علماوو ته یې په زده کړو پسې ور ولېږه. دی لوی شو او واده یې وکړ، بیا په بیهار کې د چشتیه طریقې ستر خلیفه و. لمسیانو او کړوسیانو یې تر ډېره د ده لار پالـله او سلگونه مریدان او پیروان یې لرل. ویل کېږي چې ده د چشتیه طریقه خورا پراخه کړه او لسگونه کسان یې د هند په بېلو برخو کې د دغه طریقې د پراختیا لپاره وگومارل. معلومات ښيي چې د کورنۍ سلسله یې لا هم په بیهار کې ژوند کوي او په هند کې له درناوي برخمن خلک دي.
خواجه نظام الدین اولیا اوولس کلن و چې په تصوف او عرفان پسې ووت. ده له لومړي سره له انسان او انسانیت سره مینه لرله او مور یې دی له تاوتریخوالي او جگړو لرې لوی کړی و. د مور هیله یې هم دا وه چې دی باید ستر عالم شي. نظام الدین د تصوف او صوفیزم پر تیوري دومره ټینگار نه کاوه، بلکې پر دې یې ټینگار کاوه چې انسان عملا باید ځان سپېڅلی کړي. د حق لار وپلټي له دنیوي شخړو او ناندریو لرې شي او انساني کرامت ته د زړه له تله درناوی ولري. همدا لامل و چې د نظام الدین تگلارې دومره ملاتړي او پلویان پیدا کړل. له بلې خوا چشتیه طریقې په هند کې له لومړي سره هم په تر نورو تصوفي طریقو ډېر پلویان لرل؛ ځکه د دې طریقې تگلاره بېله وه او د هند د خلکو له طبعي عادتونو او خصلتونو سره یې ورته والی درلود. چشتیه طریقې ان د مغلو پادشاهانو دربارونو ته لار موندلې وه، له خلفاوو به مشوره اخیستل کېده او په مهمو مجلسونو کې به د دوی استازي حاضر وو.
بالاخره د هند پر ځمکه دغه ستر سني مذهبه صوفي او عارف د ۱۳۲۵ میلادي کال د اپرېل په درېیمه ومړ. د ده مزار د ډیلي په درگاه نومې سیمه کې خورا مشهور دی. هر کال زرگونه کسان یې زیارت ته ورځي، په کال کې یوه ورځ د ده لپاره ځانگړي مراسم جوړېږي او زرگونه خلک پکې گډون کوي. له ده سره په دې سیمه کې مشهور نور شخصیتونه هم خاورو ته سپارل شوي دي او د خلکو له درناوی برخمن دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۳۰ |
| € | ۸۲,۳۰ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۲ |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

له نړيوالو د ولسمشر غني غوښتنه:

# طالبان د غير منطقي تاوتريخوالي له دوام را وګرځوئ




د اوربند په تړاو د ولسمشر غني د پرله پسې غوښتنو به دوام نوموړي پرون يو ځل بيا له نړيوالو وغوښتل چې طالبان اوربند او د تاوتريخوالي کموالي ته وهڅوي.
پرون د عدم انسلاک غورځنګ د غړو هېوادونو مشرانو او استازو په يوه ويډيويي کنفرانس کې ګډون کړی و. دوی په سيمه کې د کرونا ويروس پر وړاندې پر رواني مبارزې او لارو چارو خبرې کړې دي. په دغه کنفرانس کې ولسمشر غني يو ځل بيا غوښتې چې د دغه ويروس پر وړاندې اغېزمنې مبارزې لپاره بايد په هېواد کې اوربند وشي او نړيوال دې په دې برخه کې همکاري وکړي.
ولسمشر غني د عدم انسلاک غورځنګ له غړو هېوادونو او ملګرو ملتونو غوښتي، څو طالبان اړباسي چې بشري اوربند ته غاړه کېږدي. هغه په خپلو خبرو کې د طالبانو روانه جګړه غير منطقي تاوتريخوالی ياد کړی او پر نړيوالو يې غږ کړی چې له اوربند سره همکاري وکړي. د ده په خبره: ((د عدم انسلاک غورځنګ له ټولو غړو غواړو پر طالبانو غږ وکړي چې له خپل غير منطقي تاوتريخوالي لاس واخلي او په افغانستان او سيمه کې د سولې او ثبات ټينګښت لپاره له سياسي بهير سره يو ځای شي)).
نوموړي همدا راز پر طالبانو هم غږ وکړ چې له تاوتريخوالي لاس واخلي او د ملګرو ملتونو هغه غوښتنې ته درناوی وکړي چې په ټوله نړۍ کې يې د بشري اوربند غږ کړی دی. ولسمشر په هېواد کې روانه جګړه پردۍ او نيابتي بللې او په خبره يې دا جګړه پر افغان خاوره ځلوبښت کلنه شوه چې بايد پای ته ورسول شي.
هغه د کرونا ويروس پر وړاندې هم مبارزه کې د نړيوالو مرسته مهمه بللې او پر دوی يې غږ کړی چې په دې برخه کې له افغانستان سره همکاري وکړي.
ولسمشر غني د افغانستان پر ګاونډيو هېوادونو هم غږ کړی چې د همکارۍ روحيه پياوړې کړي او په دې سختو شرايطو کې د يو بل لاسنيوی وکړي.
د عدم انسلاک غورځنګ د غړو هېوادونو غونډه پرون د ويډيو کنفرانس له لارې جوړه شوې وه چې د غړو هېوادونو د استازو او ولسمشرانو ترڅنګ د ملګرو ملتونو عمومي منشي او د اروپايي کمېسيون مشرتابه پکې ګډون کړی و. دوی د کرونا ويروس پر ضد مبارزه کې پر همکارۍ او نورو مواردو بحثونه کړي دي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوتريش په دې کنفرانس کې د خبرو پر مهال ويلي چې کرونا ويروس ټوله نړۍ ځپلې ده او د نړيوالو مسووليت دی چې په ګډه يې پر وړاندې مبارزه وکړي.
د عدم انسلاک غړو هېوادونو هم ژمنه کړې چې د افغانستان د سولې په پروسه کې به همکاري کوي او همدا راز بايد په ګډه په سيمه کې د کرونا ويروس پر وړاندې مبارزه وشي.
بلخوا د ولسمشر وياند هم پرون په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې د طالبانو له لوري د تاوتريخوالي دوام به د سولې په تړاو خلک بې باوره کړي او همدا راز به ددې سبب شي چې کرونا ويروس په هېواد کې خلکو ته تلفات واړوي. د ده په خبره: ((يو ځلې بيا طالبانو ته په خطاب کې وايم، چې بشر دوستانه اوربند ومني او تاوتريخوالي ته دې د پای ټکی کېږدي، کرونا ويروس لامل کېږي چې مونږ له ننګونو سره مخ شو، له دې ډلې غواړو چې له دې مسووليت نه انکار ونه کړي، له هغه پرته به مسووليت د دې ډلې پر غاړه وي، اوربند زمونږ او د نړيوالو همکارانو غوښتنه ده)).
افغان حکومت داسې مهال په مکرره توګه له طالبانو د اوربند او تاوتريخوالي د کمولو غوښتنه کوي چې يادې ډلې په ځلونو د افغان حکومت، امريکا او د ملګرو ملتونو د اوربند غوښتنه رد کړې ده. دوی وايي چې د خپلو موخو لپاره جګړې ته ادامه ورکوي او په وينا يې افغان حکومت د سولې په لار کې خنډونه جوړوي.

# د کرونا چټکه پراختيا؛

## د تازه شمېرو له مخې په نړۍ کې د کرونا ويروس له کبله د مړو شمېر تر ۲۵۰ زرو واوښت



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، په نړيواله کچه د کرونا ويروس د قربانيانو شمېر په چټکۍ سره مخ پر ډېرېدو دی چې تر دې مهاله د ياد ويروس له کبله د مړو شويو کسانو شمېر له ۲۵۰ زرو واوښت.
د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې پر دغه ويروس د اخته کسانو شمېر ۳.٦۲ ميليونو ته رسېدلی چې ۱.۱۷ ميليونه کسان بيا بېرته رغېدلي دي.
د امريکا متحده ايالتونه د ياد ويروس د قربانيانو او اخته کسانو د شمېر له مخې، له ټولې نړۍ مخکې دي. د راپورونو له مخې، په امريکا کې د کروناويروس له کبله د مړو شويو کسانو شمېر ۷۰ زرو او د اخته کسانو شمېر ۱.۲ ميليونو کسانو ته رسېدلی چې د ټولې نړۍ د تلفاتو ځلورمه برخه جوړوي.
له امريکا وروسته اسپانيا د ۲۵۴۲۸ مړو او ۲۴۸ زرو اخته کسانو له کبله په دويم، ايټاليا د ۲۹۰۷۹ مړو او ۲۱۲ زرو اخته کسانو په درلودو سره په دريیم، برېټانيا د ۲۸۷۳۴ مړو او ۱۹۰ زره او ۵۸۴ اخته کسانو له کبله په څلورم، فرانسه د ۲۵۲۰۱ مړو او ۱٦۹ زره او ٤٦۲ اخته کسانو په درلودو سره په پنځم، دغه راز جرمني، روسيه، ترکيه، برازيل او ايران د لوړو شمېرو له کبله په ترتيب سره په شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم کتار کې راځي.
بلخوا د جرمني د روغتيا وزير ويلي چې د دغه ويروس د واکسين جوړول او پراختيا ورکول ښايي څو کاله وخت ونيسي، خو د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ويلي چې دغه کار به د روان کال تر پايه وشي.
د جرمني د روغتيا وزير ينس شپان زياته کړې چې د نورو ويروسونو لپاره د واکسينونو د جوړولو تېرو تجربو ته په پام به د کروناويروس لپاره د واکسين جوړول کلونه وخت ونيسي.
هغه ويلي: «د واکسينونو پرمختيا په طبابت کې يو له ستونزمنو او له چلنج ډکو کارونو څخه دي.» خو د متحده ايالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دې اړه خوشبينه دی او وايي چې دغه واکسين به د روان کال تر پايه جوړ شي.
هغه له فاکس نيوز ټلويزيون سره په خپله وروستۍ مرکه کې ويلي: «مونږ ډېر ډاډه يو چې د کال تر پايه به د کروناويروس واکسين ولرو.»
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې لومړی د امريکا متحده ايالتونو او بيا برېټانيا د کرونا ويروس ازمايښتي واکسينونه تطبيق کړي، خو تر اوسه دا نه ده په ډاګه شوې چې دغه واکسينونه به ګټور ثابت شي او کنه.
په ورته وخت کې په يوه تازه څېړنه کې چې د دغه ويروس پر ۱۰٦۳ ناروغانو ترسره شوې، ليدل شوي چې د «ريمډيسيوير» په نامه درمل د کووېډ- ۱۹ناروغانو د درملنې موده ۳۱ سلنه لنډه کړې ده.

# څېړونکي: د کرونا ويروس له کبله د افغانستان د ګمرکونو عوايد نږدې ۹۵ سلنه کم شوي دي

د کروناويروس د خپرېدو له امله محدوديتونو، ګرځبنديزونو او د بازارونو او کارونو په ټپه درېدلي حالت د ګڼو هېوادونو اقتصاد ته زيان رسولی دی.
په امريکا کې د منځني ختيځ انسټيټيوټ يو شمېر څېړونکو ادعا کړې چې کروناويروس به د افغانستان او پاکستان په ګډون د سيمې د هېوادونو اقتصاد په ناوړه توګه وځپي.
په ورته وخت کې افغانستان هم د کروناويروس د مخنيوي په خاطر له خپلو ګاونډيانو سره پولې تړلي او ښارونه يې قرنطين کړي دي. له همدې کبله له ګاونډيو هېوادونو سره د کابل د سوداګرۍ کچه راټيټه شوې او د هېواد په لر او بر کې د خوراکي توکو او نورو توکو بيې او پلور هم کم شوی دي.
د افغانستان د سولې لپاره د يوه څېړنيز ګروپ ستره سلاکاره او د بروکېنګز د انسټيټيوټ کارپوهه وېنډا فېلباب براون وايي چې په يوه مياشت کې د افغانستان د ګمرکونو عوايد شاوخوا ۹۵ سلنه را کم شوي دي.
په ورته وخت کې کرونا ويروس د پاکستان په ګډون د سيمې د هېوادونو پر اقتصاد هم ناوړه اغېزه کړې ده. دا په داسې حال کې ده، وړاندوينه کېده چې له ډېر کلونو وروسته به پاکستان د خپلې ملي بوديجې کسر را کم کړي، خو د پنجاب پوهنتون استاد او د هغه ايالت پخواني والي رضوي ويلي چې دغه چاره اوس امکان نه لري.
رضوي زياته کړې چې د پاکستان د حکومت د پرمختيايي بوديجې زياته برخه اوس د کرونا پر خلاف مبارزې او خلکو ته د مرستو رسولو ته ځانګړې شوې ده.
د چارو څارونکي د کروناويروس د خپرېدو او له دې امله د هر ډول ټولنيز او اقتصادي زيانونو د مخنيوي لپاره د حکومت او ولسونو ترمنځ ګډه همغږي او همکاري مهمه بولي.

مسير ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د مي پنځمه | ۵۳۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ۳۲ | ۳٤ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ |
| ۹ | ۱۸ | ۱۷ | ۱۷ | ۱۷ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲٤ | لمر ختل ۰۵:۰۱ | ماسپښين ۱۱:۵۱ | مازيګر ۰۳:۳۱ | ماښام ۰٦:٤٤ | ماخوستن ۰۸:۱۵

سه شنبه ۱۳۹۹/۲/۱٦
د سهار اذان ۰۳:۲۳ د ماښام اذان ۰٦:٤۵
رمضان کريم

## نړۍ



د کرونا چټکه پراختيا؛
# د تازه شمېرو له مخې په نړۍ کې د کرونا ويروس له کبله د مړو شمېر تر ۲۵۰ زرو واوښت
۵

## وزارت صحت عامه: به تازه گی شش رویداد بیماری پولیو کودکان در افغانستان ثبت شده است

وزارت صحت عامه می‌گوید که با ثبت شش رویداد تازه پولیو در کشور، رویدادهای این بیماری کودکان از آغاز سال روان میلادی تاکنون، به ۱۱ رسید.
بربنیاد اطلاعات بخش محو پولیوی وزارت صحت عامه، این شش رویداد در ولسوالی های شاولی کوت و غورک ولایت کندهار، شیگل و شلتن ولایت کنر، ولسوالی یاوان ولایت بدخشان، دهدادی ولایت بلخ و شیندند ولایت هرات، ثبت شده اند. داکتر گلاخان ایوب، مسؤل آگاهی عامۀ معافیت کتلوی وزارت صحت عامه در این باره می‌گوید: «در سال روان میلادی ما پنج واقعۀ مثبت پولیو دیگر نیز از ولایت‌های هملند، زابل، نیمروز، لغمان و فراه، ثبت شده بود.»
درعین حالگل محمد بیدار، معاون والی کنر می گوید: «بدبختانه در سال روان در کنر یک واقعۀ مثبت ثبت شده است و در این ولایت ۱۷۰ هزار کودک واجد شرایط داریم.» بصیراحمد افضلی، مسؤل معافیت کتلوی ریاست صحت عامه بلخ نیز می گوید: «هرگاه همکاری مردم و والدین و همکاری مخالفین دولت کشور نباشد، ما شاهد ثبت رویدادهای بیشتر خواهیم بود.» وزارت صحت عامه می گوید که به علت گُسترش ویروس کرونا در ماه های اپریل و مارچ سال روان میلادی، برنامه دوریی واکسین درکشور، اجرا نشد.
داکتر عبدالقیوم پخلا، مسؤل محو پولیو حوزۀ جنوب نیز می‌گوید: «در سال روان میلادی ما در حوزه جنوب ۵ رویداد مثبت پولیو داریم.»
هرچند نزدیک به ده میلیون کودک زیر سن پنج سال باید در برابر بیماری پولیو واکسین شوند، اما وزارت صحت عامه می‌گوید که هر بار نزدیک به دومیلیون این کودکان به علت جنگ و نا امنی در بخش های نا امن، از واکسین محروم می شوند.

## سانا: امريکايي ځواکونو د سوريې له شمال څخه عراق ته د داعشيانو لېږد پيل کړی دی

سوري رسنيو د دغه هېواد د سيمه ييزو سرچينو په حواله ويلي چې امريکايي پوځيانو د سوريې د ډيموکراټيکو ځواکونو له زندانونو څخه عراق ته د داعش ډلې د جنګياليو لېږد پيل کړی دی.
د سوريې سانا اژانس د راپور پر بنسټ، امريکايي ځواکونو د دغه هېواد د شمال الشدادي سيمې هغو زندانونو ته تګ راتګ ډېر کړی چې پکې د ډيموکراټيکو ځواکونو له لوري د داعش ډلې نيول شوي جنګيالي ساتل کېږي.
د ياد آژنس د راپور له مخې، په دې سيمه کې زرګونه داعش جنګيالي چې د سوريې د ډيموکراټيکو ځواکونو له لوري نيول شوي، ساتل کېږي، خو په دې وروستيو کې د دغو زندانونو د ساتنې مسووليت امريکايي ځواکونو بېرته په خپل لاس کې اخيستی دی.
د سوريې د ډيموکراټيک ځواک يوه لوړپوړي چارواکي د نوم نه ښودو په شرط سانا ته ويلي، چې امريکايي پوځيان له دغو زندانونو هره ورځ په لسګونه داعشيان په خپلو زغروالو ګاډو کې عراق ته وړي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم د عراق د پارلمان د دفاعي کمېټې غړو پر امريکا تور پورې کړی چې

## بنګله دېش هغو سلګونو روهنګيايي مسلمانانو ته په خپل هېواد کې ځای ورکړی، چې ماليزيا شړلي وو



د بنګله دېش چارواکو ويلي، سګونه هغه روهنګيايي مسلمانان يې په کمپونو کې ځای پر ځای کړي چې ماليزيا ورته خپل هېواد ته د ننوتلو اجازه نه وه ورکړې او بېرته يې ستانه کړي وو. د بنګله دېش چارواکو دغه راز زياته کړې، له ماليزيا څخه په ستنو شويو روهنګيايانو کې ۱۵ ښځې او شپږ ماشومان هم شامل دي. ويل کيږي چې دوی د هغو ۵۰۰ کسانو له ډلې دي چې څو ورځې يې په سمندر کې د کب نيونې په يوې کښتۍ کې تېرې کړې وې.
دوی هڅه کوله چې ماليزيا ته ځانونه ورسوي، خو د ماليزيا حکومت د کرونا له کبله سخت قيودات لګولي او هغوی يې‌له نيول کېدو وروسته بېرته ستانه کړي او شړلي دي.
د يادونې ده چې د بنګله دېش حکومت د ميانمار ۱۰۰ زره روهنګيايي مسلمانانو ته د بهسن چاهار په سيمه کې کمپونه جوړ کړي دي. دغه هېواد څو کاله مخکې په جنوب د کاکس بازار په سيمه کې هم د روهنګيايانو لپاره لوی کمپونه جوړ کړل. چارواکي وايي، د کاکس بازار په کمپ کې تقريباً ۷۰۰زره روهنګيايي کډوال ژوند کوي چې په ميانمار کې د پوځ د ظالمانه عملياتو څخه تښتېدلي دي.
د ميانمار پوځ په ۲۰۱۷ ز کال کې د ترهګرو د ځپلو په نامه د روهنګيا مسلمانانو په ضد عمليات پيل کړل. ملګري ملتونه دا عمليات نژادي بولي او وايي چې د ميانمار پوځ پکې د روهنګيا مسلمانانو د نسل ختمول غواړي.

## ژوند

## دروغ ويل او پر روغتيا يې منفي اغېز!




د المشرق ورځپاڼې د راپور له مخې، د امريکا د رواني ناروغيو متخصصانو د خپلې کلنۍ ناستې په لړ کې چې په اورلانډو ښار کې جوړه شوه، په ۱۱۰ داوطلبو خلکو په زړه پورې څېړنه وکړه.
د څېړنې پايلو ښوده، هغه کسان چې حتی له مصلحتي دروغو ويلو هم ځان ساتي، د دروغجنو خلکو په پرتله ډېر لږ د سر درد، اضطراب او د ستونې درد په څېر له ډېرو نورو جسمي او رواني ناروغيو څخه شکايت لري .
متخصصانو له څېړنې وروسته په ډاګه کړه، څومره چې مبوې، سابه او سپورت له روغتيا سره مرسته کوي، په هماغه اندازه د خولې کنټرول او له دروغو ځان ساتل د بدن په روغتيا ساتلو کې مهم دي .
دغه متخصصين سپارښتنه کوي چې ټول خلک بايد رښتيا ويلو ته ارزښت ورکړي او په خپل ژوند کې ترې کار واخلي. دوی دغه راز وايي، رښتيا ويونکي د دروغجنو په پرتله ډېر پر خپل ځان باور او ډاډ لري.

## ځمکني توت او ګټې يې



ځمکنيو توتانو ته توت زميني يا توت فرنګي هم وايي. دغه مېوه نسبتاً نوې ده چې نږدې له ۲۵۰ نه تر ۳۰۰ کاله مخکې په ننني شکل نه وه او تر ډېره هغه وخت له دې ميوې څخه د طبي درملو په توګه ګټه اخيستل کېده. په ۱۴مه پېړۍ کې په فرانسه کې ياده ميوه له ځنګلونو څخه سمې ته راوړل شوه او له همدې وخته څخه وروسته له ځمکني توت څخه د اهلي ميوې په څېر ګټه واخيستل شوه.
د ځمکني توت طبي ګټې:
ځمکني توت په لوړه کچه انټي اوکسيدان لري او همدارنګه د ويټامينونو او ګټورو موادو لرونکي دي.دغه مېوه د زړه په ناروغۍ د اخته کيدو، د مغزي سکتې، سرطان او د وينې فشار په مخنيوي کې فوق العاده ونډه لري. د دې ترخنګ د شکرې ناروغۍ په راکمولو کې هم مهم رول لري. دا چې دغه ميوه د پوليک اسيد درلودونکې ده، نو د اميدوارو مېرمنو لپاره يې د خوړلو ډېره سپارښتنه کيږي. د دې مېوې کرل اوس په افغانستان کې هم دود شوي چې په ګرمو سيمو کې ښه يې ښه نتيجه ورکړې ده.

ماسټر ډبټ کارت
د عزيزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
• د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو کټه اخيستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزيزي بانک
Azizi Bank

